Social Sceince
AcademicJournal

لید د ټولنیزو علومو علمي مجله

LSSAJ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# په اسلامي شريعت کې دټوکو،مسخرو،حکم ته کتنه

**نوماند پوهنيار ضياءالحق حماد**

اسلامي ثقافت څانگه، شرعیاتو پوهنځی، میرویس خانه نیکه پوهنتون، زابل، افغانستان

د مسؤل بریښنالیک: mafihamad@gmail.com

ته لاسه سوي: ۱۴۰۵/۰۲/۱۹ منل سوي:۱۴۰۵/۰۵/۰۴ خپره سوي: ۱۴۰۵/۰۶/۳۱ د ثبت گڼه: LSSAJ-3-1-07 مخونه: ۲۵۰-۲۶۸

**لنډيز**

مزاح او خوش‌طبعتي د انسان له فطري اړتیاوو څخه ده، چې په ژوند کې د خوښۍ او ټولنیزو اړیکو سبب گرځي. مسخرې، ټوکې او گپې د مسلمانانو، په ځانگړې توگه د ځوانانو، په مجلسونو، محفلونو، رسنیو او د خوښۍ په مراسمو کې دود دي؛ خو له بده مرغه د روا او ناروا ټوکو، مسخرو او گپو ترمنځ حدود په سمه توگه نه مراعتیږي. له همدې امله، د دې څېړنې موخه د اسلامي شریعت له نظره د مسخرو، ټوکو او گپو حکم روښانه کول او د روا او منع شوو کړنو ترمنځ توپیر څرگندول دي. څېړنه د کتابتوني میتود له لارې ترسره سوې او د موضوع اړوند شرعي او علمي منابع مطالعه او تحلیل سوي دي. موندنې ښیې چې اسلام یو بشپړ دین دی چې د انسان د ژوند د بېلابېلو چارو لپاره اصول او احکام لري. له همدې امله، مسخرې، ټوکې او گپونه باید د شریعت له اصولو سره سم.

**کليدي کلمې:** ټوکې، زیانونه، شریعت، حکم، مسخرې،

# Review of the Islamic Ruling on Jokes and Mockery

**Zia-ul-Haq (Hamad)**

Islamic Culture, Faculty of Sharia, Mirwais Khan Nika Zabul University, Afghanistan.

Email: mafihamad@gmail.com

**Absract**

Humor and lightheartedness are natural human needs that contribute to happiness and social interaction. Jokes, mockery, and casual conversations are common among Muslims, particularly young people, in gatherings, social events, media, and celebrations. However, the boundaries between permissible and impermissible forms of joking, mockery, and casual conversation are often not properly observed. Therefore, this study aims to clarify the Islamic ruling on mockery, jokes, and casual conversations and to distinguish between permissible and prohibited practices in light of Islamic Sharia. The study employed a library-based research method, examining and analyzing relevant Islamic and scholarly sources. The findings indicate that Islam is a comprehensive religion that provides principles and rulings for various aspects of human life. Therefore, jokes, mockery, and casual conversations should be conducted in accordance with the principles of Islamic Sharia and within its prescribed boundaries.

**Keywords**: Jokes; Harms; Sharia; Ruling; Mockery.

## سريزه

الحمد لله خالق الأشباح، ومدبر الأرواح، ومقدر الغم والأفراح؛ والصلاة والسلام على من كان يمزح ولا يقول إلا حقا في المزاح، وعلى آله وأصحابه أولي المروءة والفتوة والفلاح.

اسلام یو بشپړکامل اوشامل دین ده دژوند هر اړخ ته یې ځانګړې لارښوونې کړې دي، اودانسان ټولنیز ژوند
ته اسلام ارزښت ورکړی، مزاح دانساني فطري اړتیاوو څخه ګڼل کیږي شریعت هغه په اعتدال اودشرعي حدودو په چوکاټ کې مشروع بللی دی (عن ابن عمر قال: قال رسول الله (صَلَى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) «إِنِّي لَأَ مْزَحُ وَلَا أَقُولُ إِلَّا حَقًّا». (معجم الاوسط للطبراني، ۱۴۱۵.ج: ۱، ص: ۱۹۸). ژباړه: رسول الله(صَلَى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) به کله ناکله له صحابه ؤ سره مزاح(ټوکه)کوله خوتل یې حق اوربښتیاویل.
رخَّص أهل العلم من المتقدمين والمتأخرين في المزاح، لكنهم جعلوا له قيوداً وشروطًا تضبطه حتى لا ينفتح بابه على مصراعيه فيفضي إلى محرم أو منهي عنه، كإثارة العداوة وإلهاب الضغينة، وما يوصل إلى التقاطع والتدابر وهجر الإخوان، وقطع الرحم، وكذلك القول الباطل ... (مرويات المزاح والدعابة عن النبي - صلى الله عليه وسلم - والصحابة. لهفد بن مقعد النفيعي، ۱۴۲۴، ص:/ ۴۱).
ژباړه: علماؤ په ځینو شرطونوسره دمزاح جواز منلی دی، خو دهغه لپاره یې داسي قیود اوشرطونه ټاکلي چي دمزاح دروازه یې حده خلاصه نه سي او دحرامو یامنع شوو چارو لامل ونه ګرځي؛ لکه د دښمنی راپارول، دکیني اوبغض زیاتول، دخلګو ترمنځ داړیکو پرې کي دل، له یو بل څخه مخ اړول، دورونو ترمنځ هجران، همداسي باطلي خبري؛ لکه دورغ، مسخرې، اود نورو خلګوسپکاوی که دهغوی په اخلاقو اوکړنو کي وي او که تردې هم سخت دهغوی دخلقت اوظاهري بڼې په اړه وي ټول دمنعه شوو شیانو له جملي څخه دي، په لنډه توګه هر هغه مزاح چي حرام کارته لار هواره وي، هغه هم دشریعت له مخي حرام دی؛ ددې لپاره چي دفساد او ناروا چارو مخه ونیول سي اود احتیاط اصل رعایت سي .

## دڅیړني ارزښت

په دې کي ده چي اسلام دانسان دعزت (ابرو) ته ځانګړې پاملرنه کړې ده، الله تعالی فرمائي: (وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيَ ءَادَمَ) ژباړه: موږ بنی ادم ته عزت ورکړی. اود مسخرو، استهزاء(پسخند)اوضرر رسولوپه هکله یې واضحي لارښو ونې کړي دي، جابر صحابي وایي ماله رسول الله (صَلَى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) واوریدو رسول الله (صَلَى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ویل: مسلمان هغه ده چي دده دخولې اوژبي دضرر څخه نورمسلمانان په امن وي. (صحیح المسلم، ۱۳۷۴هـ ق، ج:۱، ص: ٦٥). زموږ په ټولنه کي نوموړې موضوع په پراخه کچه شتون لري، نو اړتیا ولیدل سوه چي دمسخرو،ګپو،ټوکو مفهوم، حدود، ډولونه، دجواز اوعدم جوازصورتونه په عملي توګه وڅیړل سي .

## دڅیړني موخې

1. دقرانکریم اونبوي احادیثو په رڼاکي دمسخرو،ټوکو،ګپو شرعي حدود بیانول.
2. جواز اوعدم جواز له پلوه دمسخرو اوټوکو بیلابیل صورتونه څیړل.
3. په فرد اوټولنه دناروا مسخرو اوټوکو دمنفي اغېزو روښانه کول.

## دڅېړني پوښتني

1. دقرانکريم اونبوي احاديثو په رڼاکي دمسخرو، ټوکو شرعي حدود څه دي؟
2. دجواز اوعدم جواز له مخي دمسخرو اوټوکو بېلابېل صورتونه کوم دي؟
3. په فرد اوټولنه باندي دناروا مسخرو اوټوکو منفي اغېزي څه دي؟

## مخکنيو اثاروته کتنه

دمزاح(ټوکو) اړوند څيني مستقل کتابونه ليکل سوې دي، لکه: «المراح فی المزاح» «غذاء الارواح بالمحادثة والمزاح» «مرويات المزاح والدعابة عن البني(صَلَى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) وأصحابه»، چي په هغو کي دمزاح مفهوم، آداب، روايات اوځيني شرعي احکام څېړل سوې دي. همدارنګه داستهزاء اومسخرو اړوند مباحث په تفسيري اوحديثي کتابونوکي په متفرقه توګه موندل کيږي.

خو څېړونکي تر اوسه دمسخرو، ټوکو دمفهوم شرعي حدود، دجواز اوعدم جواز صورتونه او ټولنيزو اغيزو په اړه په پښتو ژبه داسي مستقله اومنظمه علمي ليکنه نه ده سوې چي ياد موضوعات په يوه چوکاټ کي راټول اوتحليل کړي، له همدې امله دامقاله هڅه کوي چي دغه مباحث دقرانکريم اونبوي سنتو په رڼاکي په منظم اوتحليلي ډول وڅېړي.

دموضوع اړوندمسائل په ټولواسلامي کتابتونوکي ډيري منابع موجود دي لکه قرانکريم، نبوي احاديث، تفاسير، نو ددې موضوع په اړه تر ټولو ستري اوغني شتمي زيرمي احاديث مبارکه، او تفاسيردي، همدغه موضوع داحاديثو مبارکه ؤ ، اود تفاسيرو په کتابو کي په متفرقه توګه ددې موضوع پيژنده، حکم، څېړل سوی ده، دبېلګي په توګه ديوڅوکتابونو يادونه کوو،

١ طبري، محمد بن جرير. (بی تا). تفسيرطبري جامع البيان. ناشر:دارالتربية والتراث،مکة المکرمة. له دې تفسيرڅخه دتمسخر، استهزاء، تفسيراو تشريح، اوهمداسي دنورو مفسيرونو اقوال ترې نقل سوې دي.

٢ بخاري، محمدابن اسماعيل، (١٤١٤هق). صحيح البخاري. دار ابن کثير، دار اليمامة)

٣ قشيري، مسلم بن حجاج. (١٣٧٤هـ ق). صحيح مسلم. مطبعة عيسى البابي الحلبي وشرکاه.

٤ ترمذي، محمدبن عيسی. (بی تا). مختصرالشمائل. مؤسسة الرسالة،بيروت.

٥ صنعاني، أبو بکر عبد الرزاق بن همام.( ١٤٣٧هـ ق) مصنف عبدالرزاق. دار التأصيل.

له دې کتابونو څخه دمزاح، تمسخر،استهزاء، دمسلمان د اذيت، احاديث راټول شوي، همدارنګه دشرعي مزاح حدود او هغه لارښووني چي دمسلمان دعزت اوکرامت دساتني لپاره اړيني دي، له دغو مراجعو څخه استفاده سوې.

٦ مقدسي، زيْن الدِّين مرّعي بن يُوسف الکرمي. (١٤١٨هـ) غذَاءُ الأَرْوَاحْ بالمُحَادَثَةِ والمُزَاحِ. الجفان والجابي للطباعة والنشر دار ابن حزم.

۷ عتيبي، فهد بن مقعد النفيعي. (۱۴۲۴هـ). مرويات المزاح والدعابة عن النبي - صلى الله عليه وسلم – والصحابة. دار بلنسية.
۸ دمشقي، محمد بن محمد بن محمد الغزي العامري. (۱۴۱۸هـ) المراح في المزاح. دار ابن حزم، بيروت.

له همدغو، اوهمداسي نورو مراجعو څخه دمزاح مفهوم، مشروعيت، آداب، دنبوي مزاح اواصحابو دمزاح بېلګې، شرعي ضوابط، دمشروع اوغير مشروع مزاح توپير، اونور مطالب دموضوع دڅېړلو لپاره ترې ګټه اخستل سوې ده.

## مواد او کړنلاره

داڅېړنه کتابتوني بڼه لري او دوصفي تحليلي مېتود پربنسټ ترسره سوې ده. دموضوع اړوند معلومات دتفاسيرو، احاديثو، اونورو معتمدو ماخذونوڅخه راخستل راټول سوي دي، ورسته دعلمي تحقيق او ارزوني له لاري څېړل سوي دي، ترڅو دمسخرو، ټوکو مفهوم، شرعي حدود، احکام اواغېزي په روښانه اومستنده توګه بيان سي .

## د څېړني موندني

### دتمسخر لغوي معنا:

[مَ خَ] (ع مص) (مصدرميمي است ازسخر. استهزاء کردن). (لغت دهخدا). ژباړه: مصدرميمي ده، مشتق له سخر څخه ده، پسخند ته ويل کيږي.

(السخرية): (الهزء). (معانى عربي). ژباړه: سخرية پسخند ته ويل کيږي.

(سخريا من سخر إذا استهزأ)، (لسان العرب، ۱۴۱۴هق، ۳۵۳/۴). ژباړه: سخريا مشتق له سخر څخه ده، کله چي مسخره(پسخند)وکړي.

### دتمسخر اصطلاحي معنا:

واعلم أن معنى السخرية [للاستخفاف] والاستهانة والتنبيه على العيوب والنقائص على وجه يُضحَك منه وقد يكون ذلك بالمحاكاة في الفعل والقول وقد يكون بالإشارة والإيماء وقد يكون بالضحك كأن يضحك على كلامه إذا تخبط فيه أو غلط أو على صنعته أو قبح في صورته ونحو ذلك. (فتح القريب المجيب على الترغيب والترهيب، ۱۴۳۹هق، ۷۵۴/۱۱).

ژباړه: پوه شه چي تمسخر معنا داده چي بل څوک سپک وبلل سي اودهغه عيبونه اونيمګرتياوي په داسي ډول څرګندېږي سي چي خلک پرې وخاندي، داکار کله دقول(خبرو) اوفعل(تمثيل) په نقل سره وي، کله په اشاره سره وي(لکه دسر اشاره، يا دخولې)کله دخندا په شکل سره وي؛ يعني دهغه په خبرو وخاندي چي ګډې وډې ياغلطي وي، يا دهغه په کار، ياد هغه دڅېرې په بد والي اودې ته ورته شيانو باندي.

له ياد تعريف څخه څرګنديږي چي تمسخر يوازي په الفاظو پوري محدود نه دی، بلکي هرهغه قول، فعل يا اشاره چي دبل انسان دسپکاوي، تحقير اوعيب لټولو سبب ګرځي دتمسخر په مفهوم کي راځي. همدارنګه دتمسخر موخه د مقابل لوري سپکول او دخلګو دخندا وسيله ګرځول دي، له همدې امله شريعت دانسان دکرامت او عزت دساتني لپاره له دې ناوړه چلند څخه منع کړې ده.

**تمسخر(مسخرې) دشريعت له نظره:**

الله تعالى فرمايي: (يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا يَسۡخَرۡ قَوۡمٞ مِّن قَوۡمٍ عَسَىٰٓ أَن يَكُونُواْ خَيۡرٗا مِّنۡهُمۡ وَلَا نِسَآءٞ مِّن نِّسَآءٍ عَسَىٰٓ أَن يَكُنَّ خَيۡرٗا مِّنۡهُنَّۖ وَلَا تَلۡمِزُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ وَلَا تَنَابَزُواْ بِٱلۡأَلۡقَٰبِۖ بِئۡسَ ٱلِٱسۡمُ ٱلۡفُسُوقُ بَعۡدَ ٱلۡإِيمَٰنِۚ وَمَن لَّمۡ يَتُبۡ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ) (سورة الحجرات 11).

ژباړه: ای هغو کسانوچي ايمان ئی راوړی دی(يعني ای مؤمنانو) ټوکي اوسپکاوی دي نه کوي هيڅ قوم له تاسي څخه په بل قوم باندي ځکه ښائی چي به دغه (مسخره کړی شوی) بهتر اوغوره (په نزد دالله) له دي (مسخره کوونکو) څخه او(نه دي ټوکي اوسپکاوی کوي) يو ټولی ښځی له تاسي په نورو ښځو ځکه ښائی چي هغه(مسخرې کړی سوې) به بهتر اوغوره وي ( په نزد دالله له دې مسخره کوونکيو څخه) اومه عيب جوئي کوی بعضي دتاسو دبعضي نورو؛ ځکه چي بيا دتاسو عيب جوئی هم کيږي ( چي دا په حقيقت کښي دځان عيب جوئی ده). اومه غواړی تاسو يوتربله په بدو نومونو او القابو سره.(تفسيرکابلی ، ۱۲۱۱/۲).

محمدبن جرير طبري رحمه الله ددې ايات لاندي ليکلي: (والصواب من القول في ذلك عندي أن يقال: إن الله عمّ بنهيه المؤمنين عن أن يسخر بعضهم من بعض جميع معاني السخرية، فلا يحلّ لمؤمن أن يسخر من مؤمن لا لفقره، ولا لذنب ركبه، ولا لغير ذلك). (تفسير طبري، بی تا، ۲۹۸/۲۲). ژباړه: زما په نظر سمه خبر داده چي الله تعالى مؤمنان په عمومي ډول له دې منعه کړي چي يوپه بل مسخرې وکړي، يعني دمسخرې هر ډول پکي داخل ده،(هغه که په خبروسره وي که په فعل، يا تمثيل، يا اشاره سره وي، ياخندا،سره وي) نوهيڅ مؤمن ته روانه ده چي دبل مؤمن دفقر، دکومي ګناه له امله يادبل سبب له مخي مسخرې وکړي.

يقول علماء التفسير: لأن طبيعة الإنسان من حيث هو أن تكون السخرية بين الرجال والرجال؛ لأن الرجل هو الذي يتعاظم على الرجل فيسخر منه، وكذلك المرأة مع المرأة -أي: الجنس مع جنسه- أما رجل يسخر من امرأة فهذا لا يتأتى؛ لأن الرجل لا يضع نفسه في مقابل المرأة حتى يسخر أو لا يسخر، فهو جاعلها في حسبان بعيد عنه، وكذلك المرأة بقوامها وبكيانها وبتكوينها لا تعطيها طبيعة خلقتها أن تسخر من رجل، لأنها تعلم بأن الرجولة كمال لا يمكن لها هي أن تسخر منه، ولو كان أقل الرجال منزلة فهو في حسبان الأمة أعلى منزلة من أعلى امرأة من حيث الرجولة والأنوثة، وإن كان بعض النسوة يفقن بعض الرجال في العقل، ولكن المعادلة: (لَا يَسۡخَرۡ قَوۡمٞ مِّن قَوۡمٍ، وَلَا نِسَآءٞ مِّن نِّسَآءٍ) ثم يبين: (عَسَىٰٓ)

وعسى من الله حقيقة (أَنْ يَكُونُوا خَيْراً مِنْهُمْ) ، ويبين الرسول (صَلَى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) للأمة ذلك. (تفسيرسورة الحجرات. بی تا، ۵/۶).

ژباړه: علماء دتفسيروايي: دانسان دطبيعت له مخي اکثره مسخره اوسپکاوی ديو جنس دافرادو ترمنځ وي؛ يعني سړي په سړيومسخره کوي اوښځي په ښځو ځکه سړی ځان دبل سړي سيال ګڼي اوپر هغه ځان لوړ بولي، نومسخره پرې کوي، همدارنګه ښځه له بلې ښځي سره همداسي چلند کوي. خوداعموما نه پېښيږي چي سړي دي په ښځو مسخره وکړي؛ ځکه سړی ځان دښځی په مقابل کي نه دروي چي ورسره سيالي اومقابله وکړي. همدارنګه دښځي طبيعت هم داسي نه دی چي په سړي مسخره وکړي؛ ځکه هغه پوهيږي چي نارينه والي يوځانګړی کمال دی، که څه هم هغه سړی دسړيو له ډلي ترټولو ټيټه درجه ولري، بياهم درجوليت او انوثت له پلوه دامت په نظر دهري ښځي څخه لوړمقام لري، که څه هم ځيني ښځي کي دای سي له ځينو سړيو څخه په عقل کي غوره وي. نواصلي قاعده داسوه : چي نه دي يوقوم په بل قوم مسخره کوي، اونه دي ښځي په ښځو مسخره کوي. ورسته الله تعالی وايي: (عَسَى أَنْ يَكُونُوا خَيْراً مِنْهُمْ) ژباړه: کي دای سي چي مسخره باندې سوې وي هغه ترمسخره کونکو غوره وي.

**مسخرې کول دمنافقانو اوکافرانوصفت ده:**

الله تعالی فرمايي: (ٱلَّذِينَ يَلۡمِزُونَ ٱلۡمُطَّوِّعِينَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ فِي ٱلصَّدَقَٰتِ وَٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ إِلَّا جُهۡدَهُمۡ فَيَسۡخَرُونَ مِنۡهُمۡ سَخِرَ ٱللَّهُ مِنۡهُمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ) (سورة التوبة 79).
ژباړه: هغه منافقان چي عيب وائی په (ډيرو) خيرات کوونکو باندي له مؤ منانو په (اداء) د صدقاتو کښي او(بل) دهغو(بې وزلوعيب وائی) چي هيڅ نه مومي دوی مګرپه قدر د وس اوزيار(کوشش)خپل پس مسخرې کوي دغه(منافقان) په دوی پوري؛ سزا به ورکړي الله دوی ته(دمسخرو). اوشته دوی ته عذاب درد ناک. (تفسيرکابلی ۱۴۱۴هـ ، ۱۱۱۰/۱).
(زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا وَيَسۡخَرُونَ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْۘ وَٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ فَوۡقَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ وَٱللَّهُ يَرۡزُقُ مَن يَشَآءُ بِغَيۡرِ حِسَابٖ) (سورة البقرة ۲۱۲).
ژباړه: ښائسته کړی سوی دی هغو کسانو لره چي کافران سوي دي دغه ژوندون لږ خسيس او مسخرې کوي دوی په هغو کسانو چي ايمان ئی راوړی دی(په سبب دفقر د دوی اوغنا خپلي) اوهغه کسان چي ساتلی دی(ځانونه له شرکه) دپاسه د دوی (يعني کفارو) به وي په ورځي دقيامت کښي او الله روزي ورکوي هغه چا لره چي اراده وکړي بې له حسابه(ډيره پراخه). (تفسير کابلی ،۱۴۱۴ ، ۱۶۲/۱ـ ۱۶۳).

**دراضي کي دونکي دګناه شراکت:**

عطية محمدبن سالم ددې ايات لاندې ليکلي: (لو أن شخصاً من إحدى الطائفتين سخر بالطائفة الثانية؛ فإن إسناد السخرية يكون للطائفة التي منها الشخص الذي سخر، ويكون الإسناد للمجموع لا للفرد فقط؛

لأن الواحد يتكلم باسم جماعته، ومن هنا لو أن البعض لم يسخر ولم يرض لكنه مشارك بالسكوت كما قيل: وسامع الذم شريك لقائله ..... الذي سمع ما ذم إنساناً لكنه سمع ورضي وتلذذ بذلك،كما قيل: لم آمر بها ولم تسؤني ؛فهو مشترك في الإثم، وهكذا هنا الجماعة الواحدة؛ فالذي يتكلم منهم ويسخر من الطائفة الثانية كأنه تكلم باسم الجميع، والجميع يتحمل الإثم؛ لأنه سكت ورضي. وهكذا أي إنسان ذكر إنساناً بسوء وعنده من إخوانه من لم يرد عليه ولم يمنعه؛ فمن رضي بذلك فهو مشترك في الإثم معه بسكوته عنه وعدم نهيه عن فعله، ولذا جاء في بني إسرائيل: {كَانُوا لا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُنكَرٍ فَعَلُوهُ لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَفْعَلُونَ} [المائدة:79].

والحاصل: أن السخرية لا تنشأ إلا من شخص واحد، إذا الواحد الذي أنشأ السخرية يمثل القوم، والقوم موافقون وراضون وساكتون، أما من ينكر ذلك فقد خرج منهم. (تفسيرسورة الحجرات. بی تا، ۲/۷).

ژباړه: که دیوې ډلې یو کس پر بلې ډلې مسخره وکړي، نو دامسخره یوازي هغه فرد ته نه بلکې ټولې هغې ډلې ته منسوبه کیږي چې هغه کس ورځخه دی؛ ځکه یو کس ډېر وخت دخپلې ډلې په نوم خبري کوي. که څه هم ځیني کسان خپله مسخره نه کوي او راضي هم نه وي په مسخره کولو، خوکه چپ پاته سي اود مسخره کونکي مخه ونه نیسي نو دچوپتیا له امله شریک ګڼل کیږي. لکه ویل سوي دي: دبدئ اوریدونکی، که پرې خوشحال سي دویونکي شریک دی. که څوک دبل انسان بد ویل واوري، خو منعه یې نه کړي، اونه پرې ناخوښه سي ، بلکې خوند ترې واخلي، نوهغه هم دسپکاوي اوبد ویلو په ګناه کي شریک دی. همدارنګه که یوانسان دبل انسان یادونه په بد ډول وکړي،(مثلا غیبت، مسخره) او دده له ورڼو(ملګرو) څخه څوک موجود وي چې نه یې مخه ونیسي اونه یې منعه کړي، نوکه پرې راضي وو، دخپلي چوپتیا اونه منعه کولو له امله په ګناه کي ورسره شریک دي. له همدې امله دبني اسرائلو په اړه راغلي دي: {كَانُوا لا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُنكَرٍ فَعَلُوهُ لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَفْعَلُونَ} المائده: ۷۹). دوی به یوبل له هغه بدکاره نه منعه کول چې ترسره کاوه به یې، بد ده هغه چې دوی یې فعل کاوه.

لنډه داچې مسخره عموما یوازي له یوه کس څخه پیل کیږي، خوکه هغه کس چې مسخره یې پیل کړي ده دخپل قوم استازیتوب کوي، اوقوم ورسره موافق، راضي اوچوپ وي، نوپه ګناه کي ټول شریکان دي، که څوک داکاربد بولي اوانکارترې وکړي هغوی ګناه ګار نه دي.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما قَالَ:

قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم بِمِنًى: (أَتَدْرُونَ أَيُّ يَوْمٍ هَذَا). قَالُوا: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: (فَإِنَّ هَذَا يَوْمٌ حَرَامٌ، أَفَتَدْرُونَ أَيُّ بَلَدٍ هَذَا). قَالُوا: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: (بَلَدٌ حَرَامٌ، أَتَدْرُونَ أَيُّ شَهْرٍ هَذَا). قَالُوا: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: (شَهْرٌ حَرَامٌ، قَالَ: فَإِنَّ اللَّهَ حَرَّمَ عَلَيْكُمْ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ وَأَعْرَاضَكُمْ، كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هَذَا، فِي شَهْرِكُمْ هَذَا، فِي بَلَدِكُمْ هَذَا). (صحيح البخاري، ۱۴۱۴هق،۶۲۰/۴).

ژباړه: دحضرت عبدالله ابن عمرځخه روایت ده نوموړی وایي: چې رسول الله(صَلَى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) په مِنا کي وویل: تاسوپوهیږی چې داکومه ورځ ده؟ صحابه ؤ وویل: الله تعالی اودهغه رسول ښه پوهیږي،

ویې فرمایل: دادحرمت ورځ ده. بیایې وویل: تاسوپوهیږی چې داکوم ښاردی؟ صحابه ؤ وویل: الله تعالی اودهغه رسول ښه پوهیږي، ویې فرمایل: دادحرمت ښار دي. بیایې وویل: تاسوپوهیږی داکومه میاښت ده؟ صحابه ؤ وویل: الله تعالی اودهغه رسول ښه پوهیږي، ویې فرمایل: داد حرمت میاشت ده. بیایې وویل الله تعالی په تاسو باندي ستاسو وینې، مالونه، اوستاسو عزتونه حرام کړي دي. یعني لکه څرنگه چې داورځ، دامیاشت، اوداښارمحترم ده، همداسې دمسلمان وینه، مال، اوعزت هم محترم ده. نوله دې حدیث څخه داڅرگنده سوه چې دمسلمان بې عزتي کول حرام اونارواده، نو دمسخروپه وجه دمسلمان بې عزته کول کیږي، اوسپک گڼل کیږي داهم دشریعت له نظره جواز نلري.

**دمزاح لغوي معنا:**

ټوکه چي په عربی ورته(مزاح) وایي (مزح)،(مزحا ومزاحا دعب وهزل مباسطا متلطفا). (معجم الوسیط،۱۳۹۲هق،۸٦٦/۲). ژباړه: خوش طبعي وکړه، په نرمه اوخوږه طریقه یې خندونکي خبر وکړه.

**دمزاح اصطلاحي معنا:**

(أن المزاح المباسطة إلى الغیر علی جهة التلطف والاستعطاف دون أذیة). (لسان العرب، ۱۴۰۴هق،۵۹۳/۲). ژباړه: مزاح(ټوکه)داده چي له بل سره په نرمه،اومحبت ناکه توگه خوش طبعي وسي ، بیله له دې چي هغه ته ضرر اوتکلیف ورسیږي.

**دشریعت له نظره دمزاح(ټوکو) حکم:**

ببشکه انساني روح ستړی کیږي، لکه څرنگه چي بدن ستړی کیږي. بدن دستړیا په مهال دارام غوښتنه کوي، همدارنگه نفس چي کله تنگ اوستړی سي ، دراحت او ارام غوښتنه کوي. اسلام دانساني فطرت دسالمو غوښتنو مخالف نه دی، بلکه هغه منظموي اواعتدال ورته ټاکي. رسول الله(صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) هم کله ناکله له خپلو صحابه ؤ سره مزاح کاوه، خو دهغه مزاح حق وه،لکه څرنگه چي په حدیث کي راځي (عن ابن عمر قال: قال رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ): «إِنِّیْ لَأَ مْزَحُ وَلاَ أَقُوْلُ إِلَّا حَقًّا». (معجم الاوسط للطبراني، ۱۴۱۵.ج: ۱، ص: ۱۹۸). ژباړه: عبد الله بن عمر وایي: چي رسول الله(صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) وویل: زه مزاح کوم خوله حقه پرته بل څه نه وایم. له دې څخه څرگندیږي چي په اسلام کي اصل منعه نه دی، بلکه ضابطه اوچوکاټ مهم دی. له بله پلوه داسي افراطي ټوکي، گپي کول چي دروغ، سپکاوی، استهزاء، دخلگوعیبونه، یاد مسلمان عزت ته زیان رسوي، په هرمجلس کي خلگ خندا ته هڅول کیږي، دیوشخص وقار له منځه وړي، انسان دسپکوالي په صفت مشهوره وي، اودانسان مړانه له منځه وړي، په اسلام کي جواز نلري. که چرته موږ وخپلو مجالسو ته وگورو زموږ مجالس له داسي ټوکو، گپو څخه خالي نه وي چي په هغه کي غیبت، بهتان، دروغ، دمسلمان بې عزتي، دمسلمان عیب ښکاره کول، په مسلمان مسخرې کول، کله کله داسي هم وي چي داسلام دشعایرو پکښې سپکاوی وسي .

**دمزاح شرعي ضوابط اومحدودیتونه:**

رسول الله(صَلَى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) له داسي مزاح (ټوکو) څخه منعه فرمايلي ده چي په هغه کي مسلمان ته ضرر وي. (عن ابن عباس، عن النبي (صَلَى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) قال: «لاَ تُمَارِ أَخَاكَ، ولاَ تُمَازِحْهُ، ولاَ تَعِدْهُ مَوْعِداً فَتُخْلِفَهُ». (سنن ترمذي، ۱۳۹۵، ۳۵۹/۴). ژباړه: له خپل وروروسره جګړه مه کوه، له هغه سره داسي مزاح(ټوکي) مه کوه (چي آزارېکي وي)، او ژمنه مه ورسره کوه چي بیايې مخالفت وکړي(يعني پوره يې نکړې).

ددې حديث څخه دلاندي مسائلو استنباط کول کيږي:

1 - الإسلام بتوجيهاته الرسي دة، وتعاليمه الحكيمة، يحث على الألفة والأخوَّة الإيمانية، التي تجمع القلوب، وتؤلف النفوس، وتشرع الأسباب الجالبة للأخوَّة. والمحبة والمودة في الله، هو أساس الاجتماع، والتعاون على البر والإحسان، ونهى عما يسيء إلى الأخوَّة والألفة.
أما إذا كان المجلس عامًّا، وفيه الملَحُ والفكاهات، وأخطأ أحد في حكاية، أو سوق فكاهة، أو طرفة، فالأولى تركها؛ إذ لا يترتب عليها سي ء.
۲- أما المزاح: فليكن مزاحًا خفيفًا لطيفًا بأدب واحترام، وأن لا يطول، ولا يثقل حتى يتعدى، ويسبب الغضب، والعداوة، والبغضاء. (توضيح الاحكام من بلوغ المرام،۱۴۲۳هق، ۴۳۸/۷).
ترجمه: اسلام په خپلو سمو لارښوونو اوحکيمانه تعليماتو سره دالفت اوايماني ورورولۍ بلنه ورکوي، هغه ورور ولي چي زړونه سره نښلوي، نفسونه سره يوکوي، اوهغه اسباب مشروع ګرځوي چي دالله تعالى لپاره دورورولي، محبت سبب ګرځي همدغه مينه او ورورولي ديو والي بنسټ دی اودنيکۍ اواحسان په کارونو کي ديوبل سره دهمکارۍ زمينه برابره وي. اسلام له هرهغه څه څخه منعه کړې ده چي دورورولۍ او الفت فضا خرابوي او زړونوته تاوان رسوي.
که مجلس عام وي اوپکي خوږي خبري رواني وي، اوکه څوك په ټوکه، کيسه، يالطيفه کي تيروتنه وکړي، نوغوره ده چي پرېښول سي ؛ ځکه له هغه څخه کومه مهمه پايله نه پيداکيږي.
مزاح بايد سپك لطيف، دادب اواحترام په چوکاټ کي وي، نه دې اوږد وي، اونه دې دومره دورند سي چي له حدڅخه واوړي اودقهر، دښمني، اوکيني سبب وګرځي.
وقول خالد بن صفوان: المزاح سباب النوكى.
فليس هذا من المزاح المحمود المباح؛ فإن ما يهيج الضغائن ويعد من السباب والكذب، أو تسلط به على عرض رجل أو ماله، فليس هو من المزاح المحمود، ولا هو من جنس ما مازح به النبي صلى الله عليه وسلم؛ فإنه ليس من مزاح النبي / صلى الله عليه وسلم سي ء زائد على خفض الجناح، وبسط الجانب، وجلب التودد...وإنما المحمود منه ما قل وندر، واستجمت به النفس عند كلالها. (بيغية الرايد لماتضمنه حديث ام الزرع لمافيه من الفوايد ۱۴۳۹هق، ۳۵۳).
ژباړه: دخالد بن صفوان وينا ده: بېځايه ټوکي کول داحمقانو ښکنځل دي.

نو داډول ټوکي چي ستایل سوې اوروا مزاح نه بلل کیږی، ځکه هغه ټوکه چي کینه را پاروي، د درواغو له جملي شمیرل کیږي، یا دیو سړي په عزت اومال باندي دتیري وسیله ګرځي، دانه ستایل سوی مزاح (ټوکه) ده اونه هم دهغه مزاح له جنس څخه ده چي رسول الله (صَلَى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) به کاوه. ځکه د رسول الله (صَلَى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) مزاح تواضع ،مهرباني کول،دميني اومحبت جبول، له دې نه زيات نه وه، نوستايل سوى مزاح هغه دى چي لږ اونادر وي، اونفس دستړيا په مهال تازه کوي(له غيبت ،درواغو ،بهتان،دمسلمان له اهانت، عزت، اوعيب څه پاک وي).

عن الحكم رحمه الله قال: قال ابن عمر رضي الله عنهما: «لَا يَبْلُغُ رَجُلٌ حَقِيْقَةَ الإِيْمَانِ حَتَّى يَدَعَ الْمِراءَ، وَهُوَ مُحِقٌ، وَالْكَذِبَ فِي الْمَزَاحِ» (الصمت واداب اللسان، ١٤١٠هق، ٢١٢). ژباړه: له حکم (رحمه الله) څخه روايت ده هغه وايي: عبدالله بن عمر وويل: يوسړی به دايمان حقيقت ته ونه رسيږي، ترڅو چي په شخړه کي (مراء) پريږدي،که څه هم په حق وي، (يعني دځان ښودل وي نه دحق ښکاره کول) اوهمدارنګه په مزاح (ټوکو) کي درواغ.

قال عمر بن عبد العزيز رحمه الله: «اتقوا الله، وإياي والمزاحة، فإنها تورث الضغينة وتجر القبيحة، تحدثوا بالقرآن، وتجالسوا به، فإن ثقل عليكم فحديث حسن من حديث الرجال». (الصمت واداب اللسان، ١٤١٠هق، ٢١٢). ژباړه: عمربن عبدالعزيز به ويل: له الله تعالى څخه وويريږئ، ځانونه او ما له ډيرو ټوکو څخه وساتئ؛ ځکه چي داکينه راولاړه وي اوبدو کارونو ته لارهواره وي. دقران خبري وکړئ اودهغه په هکله مجلسونه جوړکړئ، که دا درباندي درانده سي ، نو بيادخلګو له ښواونيکوخبروڅخه خبري وکړئ.

أن الأحنف بن قيس (رحمه الله) كان يقول: «من كثر كلامه وضحكه ومزاحه قلت هيبته، ومن أكثر من سي ء عرف به». (الصمت واداب اللسان، ١٤١٠هق، ٢١٢). ژباړه: احنف بن قيس (رحمه الله) وايي: که دچا خبري اوخندا، اومزاح (ټوکي) ډيري سوې دهغه وقار اوهيبت کميږي، اوڅوک چي يوکار ډير ترسره کوي په همغه کارکي پيژندل کيږي.

عن محمد بن المنكدر قال: " قالت لي أمي: (لَا تُمَازِحِ الصُّبْيَانَ فَتَهُوْنَ عَلَيْهِمْ) (الصمت واداب اللسان، ١٤١٠هق، ٢١٢). ژباړه: محمدبن منکدر وايي: ماته خپلي مور وويل له ماشومانو سره ټوکي، ګپي مه کوه ځکه په دوی به سپک سي .

عن الأحنف بن قيس رحمه الله، قال: قال عمر بن الخطاب رضي الله عنه: «مَنْ مَزَحَ اِسْتَخَفَّ بِهِ» (الصمت واداب اللسان، ١٤١٠هق، ٢١٢). ژباړه: احنف بن قيس وايي چي حضرت عمرفاروق (رضى الله عنه)وويل: چاچي ټوکي، ګپي ډيري کړي، نوخلګ به يې سپک وګڼي(دراناوی به يې کم سي ).

عن عبد الله بن المبارك، قال: قال سعيد بن العاص رحمه الله لابنه: «يَا بُنَيَّ، لَا تُمَازِحِ الشَّرِيْفَ فَيَحْقِدُ عَلَيْكَ، وَلَا تُمَازِحْ الدَّنِيءْ فَيَجْتَرِئَ عَلَيْكَ». الصمت واداب اللسان، ١٤١٠هق، ٢١٢). ژباړه: عبدالله بن

مبارك وايي: چي سعيدبن وقاص به خپل زوی ته ویل: اې زویه! دشريف کس سره ټوکي مه کوه چي په تا کرکه(حسد) وکړي، اود بیکاره سړي سره ټوکي مه کوه چي په تابه جرئت پيداکړي.
أن عمر بن الخطاب رضي الله عنه قال: " هَلْ تَدْرُوْنَ لِمَ سُمِيَ الْمَزَاحَ؟ قَالُوْا: لاَ. قَالَ: لِأَنَّهُ زَاحَ عَنِ الْحَقِّ " الصمت واداب اللسان، ۱۴۱۰هق، ۲۱۲). ژباړه: حضرت عمر(رضی الله)وويل: اياتاسوپوهيږئ چي مزاح ته ولي مزاح وايي: دوی وويل: نه، ځکه چي دا دحق څخه سړی لري کوي.
قال خالد بن صفوان رحمه الله: «المزاح سباب النوکی» . قال: " وكان يقال: لكل سي ء بذر وبذر العداوة المزاح " (الصمت واداب اللسان، ۱۴۱۰هق، ۲۱۲). ژباړه: خال بن صفوان به ويل: ټوکي داحمقانو ښکنځل دی، اودهرسي لپاره تخم وي، اود دښمني تخم ټوکي دي.
عن الحسن بن حيي رحمه الله قال: «المزاح استدراج من السي طان واختداع من الهوى». (الصمت واداب اللسان، ۱۴۱۰هق، ۲۱۲). ژباړه: حسن بن حيي (رحمه الله) وايي: ټوکي دشيطان دفريب لار ده، اودنفس غوښتني اوهوس اختراع ده.
وقال بعض الحكماء: إياك والمزاح، فإن فيه سبع خصال مذمومة: ذهاب الورع، وذهاب الهيبة، وقساوة القلب، وخيانة الجليس، ويهدم الصداقة، ويجلب العداوة، ومذمة العقلاء، ويستهزئ به السفهاء، وعليه وزره ومن اقتدى به. غذاء الارواح بالمحادثة والمزاح، ۱۴۱۸هق،۴۶). ژباړه: ځينو حاکمانو ويلي دي: له مزاح(ټوکو)څخه ځان وساته، ځکه په هغه کي اووه ناوړه خصلتونه دي: ۱ پرهيزګاري له منځه تلل، ۲ هيبت له منځه تلل، ۳ دزړه سختوالی،۴ دناست ملګري سره خيانت، ۵ دوستي له منځه وړي، ۶ دښمني پيداکوی، ۷ دعقلمنو خلګو ملامتي راولي، او بې عقله خلګ پرې ملنډي وهي، ټوکي کونکی او دده پيروي کونکی ګناه ګار دي.

## دمشروع مزاح مثالونه:

اسلام يو معتدل دين دی دانسان طبعي اړتياوې په پام کي نيسي، همدارنګه مناسب اوجايز مزاح(ټوکه)هم دانساني ژوند يوه برخه ده. خواسلام دمزاح لپاره حدود اوضوابط ټاکلي دي، څو داکار د دروغ، تمسخر، تحقير، اودضرر سبب ونه ګرځي. درسول الله(صَلَى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) له سيرت څخه څرګنديږي چي هغه به دخپلو اصحابوسره مزاح کاوه. (عن أبي هريرة، قال: قيل: يا رسول الله، إنك تداعبنا، قال: "إِنيِّ لاَ أَقُوْلُ إِلاَّ حَقًّا). (مسند احمد، ۱۴۲۱هق، ۳۳۹/۱۴). ژباړه: له ابی هريرة (رضی الله عنه) څخه روايت ده هغه وايي چي رسول الله((صَلَى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ)) ته وويل سوه ، چي ته زموږ سره مزاح کوي، رسول الله((صَلَى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ورته وويل: زه له حق ماسوا بل څه نه وايم. (معنا دا چي درسول الله (صَلَى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) مزاح حق اورښتيا پربنسټ وه، په هغه کي داسلام خلاف څه نه وه.
عن أنس بن مالك رضي الله عنه ، قال: كان لأبي طلحة ابن ، من أم سليم يقال له أبو عُمَيْرٌ وكَانَ رسُولُ الله (صَلَى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) يُضَاحِكَهُ إذا دَخَلَ ، وكَانَ لَهُ نُغَيْرٌ. فَدَخَلَ رسولُ الله (صَلَى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) فَرَأَى أبا عُمَير حَزِيْناً فقال: «ما شَأنَ أبي عُمير؟» فقيل: يا رسول الله (صَلَى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) مَاتَ نغيره.

فَقَالَ رسْولُ الله (صَلى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ): «يَا أَبَا عُمَيْرْ ، ما فَعَلَ النُغير؟» معاني الاثار، ۱۴۱۴هق، ۹۴/۴).
ژباړه: له انس (رضی الله عنه) څخه روایت ده هغه وايي: دابو طلحه دام سلیم څخه یو زوی و چي ابو عُمَیر ورته ویل کیده. رسول الله(صَلى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) چي به کله کورته داخل شو، له هغه سره به يې مزاح کاوه. دهغه سره یو کوچنی مرغه(نُغیر)وه. یوه ورځ رسول الله(صَلى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) راغی نو ابو عمیريي خپه ولید، ویې فرمایل: دابوعمیرڅه حال دی؟ ورته وویل سوه دهغه نُغیر(مرغه)مړسوی ده. نو رسول الله(صَلى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) هغه ته وفرمایل: ای عمیر! ستا نغیرڅه وکړل.
عن الحسن قال: أتت عجوز إلى النبي (صَلى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) فقالت: يا رَسْولُ الله أدْعُ الله أنْ يُدْخَلَني الجنةَ. فقال: (يا أم فُلان إن الجَنَّةَ لاَ تَدْخُلَهَا عَجُوزٌ) . قال: فَولتْ تَبْكِي. فقال: (أخْبروْهَا أنهَا لا تَدْخُلها وَهِيَ عَجُوز إن الله تعالى يقول: إِنَّا أَنْشَأْنَاهُنَّ إِنْشَاءً. فَجَعَلْنَاهُنَّ أبكاراً. عُرُباً أترابا). (مختصر الشمايل، بی تا، ۱۲۸). ژباړه: له حسن څخه روایت ده نوموړی وايي چي رسول الله(صَلى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ته یوه سپنسري ښځه راغله ورته يې وویل: ای دالله تعالی رسوله ماته دعا وکړه چي جنت ته داخله شم، رسول الله(صَلى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ورته وویل: اې دفلانکي مورې جنت ته سپنسري ښځې نه داخليږي، حسن وايي: ښځه وګرځيده اوژړل يې، رسول الله(صلی الله علیه وسلم) وویل: خبر ورکړي چي جنت ته به په داسي حال نه ننوځی چي سپینسري یاست،(بلکه ځواناني به یاست) الله تعالی فرمایي: (موږ به دهغو مېرمني په ځانګړي ډول بیاله سره پیداکړو، اوهغوی به پیغلي وګرځوو، دخپلو مېړونو عاشقاني اوپه عمرکښي همزولي.
وعن أنس رضي الله عنه «أن رجلا استحمل رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال: عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم يَسْتَحْمِلُهُ، فَقَالَ: " أَنَا حَامِلُكَ عَلَى وَلَدِ نَاقَةٍ! ". قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! وَمَا أَصْنَعُ بِوَلَدِ نَاقَةٍ؟! فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: " وَهَلْ تلدُ الإبلُ إِلَّا النوقُ". (صحيح الأدب المفرد للإمام البخاري ۱۴۱۸هق،/۱۱۷). ژباړه: له انس بن مالک څخه روایت ده: چي یوسړي له رسول الله(صَلى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) څخه دسپرلۍ غوښتنه وکړه(یعني غوښتل يې چي هغه ته دسفرلپاره یو اوښ ورکړي) رسول الله(صل الله علیه وسلم) وفرمایل: زه به تا داوښي په بچي سپور کړم؟ هغه سړي وویل: زه به داوښي په بچي څه وکړم؟ (یعني بچی خو دسپرلۍ وړ نه وي). رسول الله(صَلى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) وفرمایل: ایا اوښان پرته له اوښو بل څه زیږه وي؟ (یعني اوښان خو ټول داوښو له نسله وي).
حَدِيث زيد بن أسلم: فِي قَوْله لامْرَأَة يُقَال لَهَا أم أَيمن قَالَت إِن زَوجي يَدْعُوك قَالَ «وَمن هُوَ أهوَ الَّذِي بِعَيْنِه بَيَاض؟» قَالَت: وَالله مَا بِعَيْنِه بَيَاض! فَقَالَ «بلَى إِن بِعَيْنِه بَيَاضًا» فَقَالَت: لَا وَالله، فَقَالَ صلى الله عليه وسلم «مَا من أحد إِلَّا وبعينه بَيَاض» وَأَرَادَ بِهِ الْبياض الْمُحِيط بالحدقة. (المغني عن حمل الاسفارفی الاسفار، ۱۴۲۶هق، ۱۰۱۹). ژباړه: له زید بن اسلم څخه روایت ده نوموړی وايي: یوه ښځه چي ام ایمن بلل کیده، هغې وویل: زماخاوند تاسوته بلنه درکوي رسول الله(صَلى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) وویل: ایاهغه دی

چي په ستګه کي سپين والی شته؟ هغې وويل: په الله قسم دهغه په سترګه کي سپين والی نشته. رسول الله(صَلَى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) وويل: ولې نه دهغه په سترګه کي سپين والی شته. هغې بیاوويل: په الله قسم نشته، رسول الله(صَلَى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ): وويل: هيڅ داسي انسان نشته مګرداچي په سترګه کي يې سپينوالی وي.

عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ (صَلَى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ): يَا ذَا الأُذُنَيْنِ. » (مسند البزار ، ۱۹۸۸م، ۱۱۶/۱۳). ژباړه: انس رضی الله عنه وايي: چي رسول الله(صَلَى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) به ماته ويل: ای د دوو غوږو والا!. (درسول الله (صَلَى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) مزاحونه داخلاقو، اعتدال، اوحکمت ښکلې نمونه ده، له پورته روايتونو څخه داټکي راڅرګنديږي:

۱ مزاح به رښتنی وي، هيڅکله به دروغ نه وي لکه (وَهَلْ تلدُ الإبلُ إلَّا النوقُ)".

۲ له ميني اوشفقت څخه به ډک وي.

۳ سپکاوی اوتحقيربه پکښې نه وي.

۴ دتربيت وسيله به وي.

۵ دانساني فطرت اظهاربه وي). لنډه دا چي مزاح(ټوکه) دشريعت داصولو په رڼاکي مباح عمل دی، خوشرط داده چي دشريعت چوکاټ کي مراعت سي .

**صحابه ؤ به هم کله کله مزاح کاوه:**

عَنْ قَتَادَةَ، قَالَ: سُئِلَ ابْنُ عُمَرَ رضي الله عنه، هَلْ كَانَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللَّهِ (صَلَى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ): يَضْحَكُونَ؟ قَالَ: «نَعَمْ، وَالْإِيمَانُ فِي قُلُوبِهِمْ أَعْظَمُ مِنَ الْجِبَالِ» مصنف عبد الرزاق ، ۱۴۳۷هق، ۳۴۷/۱۰). (ژباړه: له قتادة څخه روايت ده، دی وايي چي ابن عمرڅخه پوښتنه وسوه چي درسول الله(صَلَى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ): صحابه ؤ به خندل، نوموړي ورته وويل: هو، ايمان ددوی په زړوکي دمظبوطو غروپه څيروه.

وكَانَ نُعَيْمَانُ إِذَا رأى شَيْئًا نَفِيسًا يَشْتَرِيه، ثُمَّ يَجِيءُ بِهِ إِلى رَسُولِ الله (صَلَى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) فيقولُ: يَا رَسُولَ الله! هَذَا أَهْدَيْتُهُ لَكَ؛ فَإِذَا جَاءَ صَاحِبُهُ يَطْلُبَ نُعَيْمانَ بِثَمَنِهِ جاءَ بِهِ إِلى النَّبِي صلى الله عليه وسلم فيقولُ: يَا رَسُولَ الله! أَعْطِ هذا ثَمَنَ متاعِه؛ فَيَقُولُ رَسُول الله صلى الله عليه وسلم: "أَلَمْ تُهْدِ لي؟ "فَيَقُولُ: يَا رَسُولَ الله! وَالله لَمْ يَكُنْ عِنْدِي ثَمَنُهُ، وَلَقَدْ أَحْبَبْتُ أَنْ تَأْكُلَهُ؛ فَيَضْحَكُ رَسولُ الله صلى الله عليه وسلم وَيَأْمُرُ لِصَاحِبِهِ بِثَمَنِهِ.. (غذاء الارواح بالمحادثة والمزاح، ۱۴۱۸هق، ۳۲./ هکذافتح الباري"۱۲/ ۷۷). ژباړه: نعيمان (رضی الله عنه) چي به کله قيمتی شی وليد هغه به يې واخست بيابه يې رسول الله(صَلَى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ته ډالی کړ، کله چي به دهغه شی مالك دبيې غوښتلولپاره نعيمان ته راغی، نعيمان به هغه رسول الله((صَلَى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ته راوست اووبه يې ويل: يارسول الله دده دمال بيه ورکړه، رسول الله(صَلَى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) به وفرمايل: ايا دا تاماته ډالی کړی نه وه؟ نعيمان به وويل: يارسول الله په الله

تعالی قسم زماسره یې بیه نه وه، خو ماغوښتل چې تاسویې وخورئ، نو رسول الله(صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) به وخندل او دهغه سي خاوندته به یې پیسي ورکړې.

مُزَّاحًا يُضْحِكُ النَّبِيَّ ﷺ، رُوِيَ أَنَّهُ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ، وَأَنَاخَ نَاقَتَهُ، وَقِيلَ لِنُعَيْمَانَ: لَوْ نَحَرْتَهَا فَأَكَلْنَاهَا، وَيَغْرَمُ رَسُولُ اللهِ ﷺ ثَمَنَهَا، فَنَحَرَهَا، فَخَرَجَ الْأَعْرَابِيُّ فَصَاحَ: وَاعَقْرَاهُ! يَا مُحَمَّدُ! فَقَالَ ﷺ: «مَنْ فَعَلَهُ؟» فَقَالُوا: النُّعَيْمَانُ، فَضَحِكَ رَسُولُ اللهِ ﷺ، وَغَرِمَ ثَمَنَهَا.

کواکب الدراري شرح صحيح البخاري،( ١٣٥٦هق، ١٨٢/٢٣). ژباړه: نعیمان (رضی الله عنه) داسي سړی وه چې مزاح به یې کاوه، اورسول الله(صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) به یې خنداوه، یو ځلي یو اعرابي(کوچي) راغی اوخپله اوښه پرې ایستله، چا نعیمان ته وویل: که دا اوښه حلاله کړې موږ به یې وخورو، اورسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) به یې بیه ورکړي، نو نعیمان هغه اوښه حلاله کړه، کله چې کوچي را ووت چیغه یې کړه او ویې ویل: ای محمد(صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) (یعني زما اوښه حلاله سوې ده) رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) وفرمایل: داکارچاکړی؟ هغوی وویل: نعیمان، نو رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) وخندل او داوښې بیه یې ورکړه.

**داحادیثو په منځ کي جمعه:**

وقد أخرج الترمذي وحسنه من حديث أبي هريرة قَالَ: قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّكَ تُدَاعِبُنَا. قَالَ: إِنِّي لَا أَقُولُ إِلَّا حَقًّا. وَأَخْرَجَ مِنْ حَدِيثِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَفَعَهُ: «لَا تُمَارِ أَخَاكَ، وَلَا تُمَازِحْهُ». الحديث والجمع بينهما أن المنهي عنه ما فيه إفراط أو مداومة عليه لما فيه من الشغل عن ذكر الله والتفكر في مهمات الدين ويئول كثيرا إلى قسوة القلب والإيذاء والحقد وسقوط المهابة والوقار والذي يسلم من ذلك هو المباح فإن صادف مصلحة مثل تطييب نفس المخاطب ومؤانسته فهو مستحب. فتح الباري،(٥٢٦/١٠). عون المعبود شرح سنن ابی داؤد،(٢٣٤/١٣). مرويات المزاح والدعابة عن النبي (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) والصحابة، ( /٣١).

دابن عباس (رضی الله عنه) له حدیث څخه څرګنده سوه چې رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) له مزاح څخه منعه فرمایلي ده (ولا تمازحه) مزاح (ټوکي) مه کوه، اوهمداسي دابوهریرة له حدیث څخه جوته سوه چې رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ)) خپله له صحابه ؤسره مزاح کاوه. ددواړو قولو ترمنځ دجمعي معنا داده: چې هغه مزاح چې ترې منعه سوې هغه دی چې پکي (افراط) زیاتوالی وي، یاتل پرې دوام وسي ؛ ځکه چې داکار انسان دالله تعالی له ذکره او د دین دمهمو چارو له فکرکولوڅخه بوختوي، اوډیر وخت داکار دزړه سختوالی، دخلګو اذیت،کینه، اودهیبت او وقار له منځه تلو ته رسیږي. خوهغه مزاح چې له دې عیبونو څخه خالي وي نوهغه مباح دي، اوکه پکي کومه ګټه وي، لکه دمخاطب دزړه خوشحالول او ورسره مینه او اُنس پیداکول نوبیا مستحب ګرځي.

**دګپو شرعي احکام اوضوابط**

**دګپي لغوي معنا**

ګپي ته په عربي (الدش،يا الدردشة)وايي. (الدش:کثرة الکلام) ژباړه: دش: ډيرو خبروکولو ته وايي.

**دګپي اصطلاحي معنا**

(اختلاط الکلام وکثرته) (تاج العروس من جواهر القاموس، ۱۳۸۵هق، ۲۰۴/۱۷). ژباړه: ډيري اوګډې وډې خبري کول.

(اخْتِلَاط الْكَلَام وكثرته)معجم الوسيط،۱۳۹۲هق، ۲۷۹/۱). ژباړه: دردشة: ډيري اوګډې وډې خبري کول.

دانسانانو ترمنځ خبري اومجلس دټولينز ژوند يوه طبعي برخه ده، په مجلسونو کي کله کله دأُنس(الفت) دميني اومحبت دزياتيدولپاره انسانان کښيني اوخبري کوي له همدې امله د زياتو خبرو مفهوم دخبرو له اصل سره تړاو لري، که مجلس خبري دعلم، نصيحت، دخيرمشورو،اودټولنيزو اړيکو دپياوړتيا وسيله ګرځي نو اجر اوثواب لري. که دمجلس خبري دوخت ضايع کيدو، غيبت، بهتان، درواغو، بې ځايه خندا، دخلګو دعيبونو دبيانولو اويا دمسلمان داذيت سبب ګرځي نوشرعا مذموم او بد عمل دی. له همدې امله اسلام دخبرو په اصل کي اعتدال اوګټورتيا غواړي، اومسلمان ته لارښوونه کوي چي يادې دخير اوګټه لرونکي خبره وکړي اويادي چپ پاته سي .

عَنْ عَلِيِّ بْنِ حُسَيْنٍ، عَنْ أَبِيهِ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ (صَلَى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ): "مِنْ حُسْنِ إِسْلَامِ الْمَرْءِ، تَرْكُهُ مَا لَا يَعْنِيهِ " (مسنداحمد، ۱۴۲۱هق ۲۹۵/۳). ژباړه: دانسان دښه مسلمان کيدونښه داده چي هغه کارونه پرې دي چي بې ګټي وي. له دې حديث څخه څرګنديري چي دمسلمان داسلام له ښکلا او کمال څخه داده چي له بې ګټو او بې فايدې خبرو اوکارونو څخه ځان وساتي. نوهغه ګپي اومجلسونه چي نه ديني ګټه، نه دنيوي مصلحت اونه هم کومه مثبته پايله لري دمسلمان له شان سره مناسب نه دی. له همدې امله شريعت مسلمان دوخت ضايع کولو اوپه بې ګټو خبرو کي له بوختيدو څخه منعه کړی دی.

**دخلګو دخندولو لپاره د درغو ويلو وعيد**

عَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ ، عَنْ أَبِيهِ ، عَنْ جَدِّهِ ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ (صَلَى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) يَقُولُ: «وَيْلٌ لِمَنْ يُحَدِّثُ فَيَكْذِبُ لِيُضْحِكَ بِهِ الْقَوْمَ ، وَيْلٌ لَهُ ، وَيْلٌ لَهُ ، وَيْلٌ لَهُ» ( مسندعبدالله بن مبارک،۱۴۰۷هق،۱۰) ژباړه: له بهزبن حکم څخه هغه له خپل پلار اوهغه له خپل نيکه څخه روايت کوي، وايي: مادرسول الله(صَلَى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) څخه واوريدل چي ويې ويل: هلاکت دی هغه چاته چي داسي خبري کوي چي دورغ پکي وايي، ترڅوک خلګ وخندوي، هلاکت دی هغه ته، هلاکت دی هغه ته، هلاکت دی هغه ته.

عَنْ يَحْيَى بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبِي ، يَقُولُ: سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: «إِنَّ الْعَبْدَ لَيَقُولُ الْكَلِمَةَ لَا يَقُولُهَا إِلَّا لِيُضْحِكَ النَّاسَ ، يَهْوِي بِهَا أَبْعَدَ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ

، وَإِنَّهُ لَيَزِلُّ عَنْ لِسَانِهِ أَشَدَّ مِمَّا يَزِلُّ عَنْ قَدَمَيْهِ» ( مسندعبدالله بن مبارك،۱۴۰۷هق، ۱۰) جمع الجوامع لسيوطي۱۴۲٦، ۷۱٦/۱۰ . ژباړه: له يحيى بن عبيدالله څخه روايت دی، هغه وايي ماله خپل پلارڅخه واوريدل هغه ويل: ماله ابوهريرة (رضی الله عنه) څخه واوريدل چي رسول الله (صَلَى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) وفرمايل: بېشکه بنده يوه داسي خبره وايي چي هدف يې يوازي دخلګو خندول وي، خودهمدې خبري له امله داسمان اوځمکي ترمنځ فاصلي(واټن) څخه هم ډير لري غورځيږي، (يعني داکس دهغي دروغ جني خبري له وجي داسمان اوځمکي دفاصلي تراندازه زيات دالله تعالی له رحمت اوله خيرڅخه لري سي ) اوبېشکه دهغه دژبي ښويېدنه دهغه دپښولو ښويېدني څخه هم ډيره خطرناکه ده.

داحاديث په څرګنده توګه دا اصل بيانوي چي دخلګو دخندولو لپاره دروغ ويل په اسلام کي له سختو ګناهونو څخه ده. رسول الله (صَلَى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) په داسي عمل باندي شديد وعيد فرمايلی دی، ځومسلمانان دخبرو په وخت کي له درواغو اوبې ځايه خبرو څخه ځان وساتي.

که موږ په ټولنه کي وخپلو مجلسوته پاملرنه وکړو نوکټ مټ ددې حديث مصداق ګرځي؛ ځکه موږ په خپلو مجلسونوکي په ځانګړې توګه دخوښحالۍ دمجالسو په تازه کولو کي داسي کس ته بلنهورکوو چي ګپې، اوټوکي کوي، ددې دپاره چي خلګ وخندوي، اومجلس ورباندي تازه سي ، کوم کسان چي ګپې، اوټوکي کوي لازم دروغ وايي، په حقيقت نه وي بنا، ددې دپاره چي خبره يو قسم نادره غونډې سي اوخلګ ورباندي وخاندي، نودداسي کس لپاره په احاديثومبارکه ؤکي سخت وعيد راغلی ده.

**مناقشه**

دموضوع اړوند دموجوده مراجعو له کتني څخه څرګنديږي چي دمزاح په اړه ځيني مستقل اثار لکه « غذاء الأرواح بالمحادثة والمزاح»، دمرعي يوسف الكرمي. « المراح فی المزاح، دمحمد الغزی». او «مرويات المزاح والدعابة عن النبي(صَلَى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) والصحابة، دفهدبن مقعد العتيبى» لخوا کتابونه ليکل سوي دي. دغه کتابو دمزاح مفهوم، مشروعيت، اداب، اوشرعي حدود تربحث لاندې نيولي دي، خو دتمسخر ، ګپو، اوبې ځايه خبرو موضوع ته په کي اشاره نه کول سوې.

همدارنګه دڅېړونکي دلاس رسي وړ سرچينو له مخي دمزاح، تمسخر اوبې ځايه خبرو دګډې موضوع په اړه مستقلي معاصري څېړني نه دي ترسترګو سوې له همدې امله اوسنۍ څېړنه دمزاح، مسخرو،ګپو، ګډه موضوع څېړلې ده.

دپخوانيو اثارو پايلي ښيي چي اصل مزاح مباح او مشروع دی، خو چي له دروغو، سپکاوي، استهزاء، اودمسلمان له اذيت څخه پاک وي. اوکه چيري مزاح په همدغو مواردو مشتمل وه بياجواز نلري. د اوسنۍ څېړني پايلي هم له دې نظر سره موافقي دي اوڅرګندوي چي مزاح هغه مهال مشروع ګڼل کيږي چي شرعي حدود او اخلاقي اصول پکښي مراعت سي ، اوپه هغه مهال غير مشروع ګڼل کيږي چي دمسلمان داذيت سبب سي .

له بلي خوا اوسنۍ څېړنه دې پايلي ته رسيدلي چي تمسخر د مسلمان دسپکاوي، دښمنۍ، کينې، اوټولنيزو ستونزو لامل گرځي داسلامي شريعت له نظره ناروا، اوجواز نلري، دغه پايله دقرانکريم اونبوي احاديثو اودمفسرينو له څرگندونو سره سمون لري.

ددې څېړني ځانگړ تيا په دې کي ده چي مزاح، تمسخر او دگپو موضوع په يو واحد علمي چوکاټ کي راټوله سوې ده، او دهر يوه مفهوم، حکم، حدود او اغيزو ته يې کتنه کړې ده، حال داچي په ډيروپښتو اثاروکي داموضوعات په متفرق ډول مطرح سوې وه، له همدې امله ددې څېړني پايلي دپښتو علمي اثارو دموندو تايد ترڅنگ دموضوع په تنظيم، جامعيت،تحليل، اوپه خپله مورنۍ ژبه پښتو وړاندې کولو کي يو څه نوښت هم څرگندوي.

داڅېړنه له هغو پښتو څېړنو سره توپير په دې کي لري چي دمزاح، مسخرو، گپو موضوع يې په يو ځای څېړلي ده. په پښتو شرعي منابعو کي دمزاح په اړه مستقل کتابونه موجود دي، خو دتمسخر او گپو موضوع اکثره په متفرق ډول په شرعي کتابونو کي ذکرسوې ده، نه داچي په يو مستقل اومنظم بحث کي راټوله سوې وي.

خو په دې څېړنه کي هڅه سوې چي دا دري واړه موضوعات (مزاح، تمسخر،گپي) په يو واحد علمي اومنظم چوکاټ کي راټول سي ، اودهر يوه شرعي حکم، حدود، په تفصيل سره تشريح سي ، همدارنگه هغه متفرق معلومات چي په مختلفوکتابونو کي پراته وو په منظم اوتحليلي ډول سره ترتيب سوي دي.

**پايله**

له دې څېړني څخه څرگنده سوه چي اسلام دانسان دعزت اوکرامت ساتني ته ځانگړې پاملرنه کړې اوله تمسخر،سپکاوي او اذيت څخه يې په کلکه منعه کړې ده. همدارنگه څرگنده سوه چي مشروع مزاح هغه دی چي له دروغو، تحقير،غيبت اوضررڅخه خالي وي اود خلگو دخوښۍ او الفت سبب وگرځي، نه دسپکاوي او ضرر. برعکس هغه مسخرې، ټوکي او بې گټي خبري چي دانسان شخصيت ته زيان رسوي، دهغه عيبونه ښکاره کوي يا دټولني دفساد سبب گرځي دشريعت له نظره ناروا بلل سوي دي. نو په فردي، ټولنيز اوتعليمي مجالسو کي داسلامي اصولو مراعت اړين دی، اومسلمان بايد له هغو خبرو اوکړنو ځان وساتي چي شريعت منع کړي دي، اوپه هغه څه عمل وکړي چي شريعت ورته ښودلي دي.

**وړانديزونه**

۱: علماؤ ته مو وړانديز داده چي دمنبر او محراب له طريقه دټولني داصلاح په موخه دمسخرو،ټوکو،گپو حکمونه په مفصل ډول تشريح کړي.

۲: دپوهنتونو استادانوته مو وړانديز داده چي خپلو محصلينو ته دمسخرو،ټوکو،گپو زيانونه، او دټولني دفساد، اوپه بد اخلاقي کي مهم رول په روښانه ډول تشريح کړي.

۳: لیکوالانوته وړاندیز داده چې دهغه څه په هکله لیکني وکړي چې دټولني دفساد، اودمسلمانانو ترمنځ دنفرت، اولري والي سبب ګرځي.
۴ درسنیو فعالانو ته وړاندیز داده چې دهغه څه په هکله باید خپروني چمتوکړي، اوخلګو ته عامه پوهاوی ورکړي چې دټولني دوحدت او یوالي خنډ ګرځي.

**اخځلیکونه:**


۱: قرانکریم.
۲: ابن ابي دنیا، عبد الله بن محمد.(۱۴۱۰هـ ق). *الصمت وادب اللسان*. دار الکتب العربي.
۳: ابن حجر، عسقلاني، .(۱۳۸۰هـ ق). *فتح الباري*. المکتبة السلفیة.
۴: احمدبن حنبل. (۱۴۲۱هـ ق). *مسند الإمام أحمد*. مؤسسة الرسالة.
۵: انصاري، محمد بن مکرم بن علی، أبو الفضل، جمال الدین (۱۴۱۴هـ ق).*لسان العرب*. دارصادر.
٦: بخاري، أبو عبد الله محمد بن إسماعیل الجعفي، (۱۴۱۴هق). *صحیح البخاري*. دار ابن کثیر.
۷: بخاري، أبو عبد الله محمد بن إسماعیل،الجعفي.(۱۳۷۹هـ ق). *الأدب المفرد*. المطبعة السلفیة ومکتبتها.
۸: بزار، أبو بکر أحمد بن عمرو بن عبد الخالق بن خلاد. (۱۹۸۸م). *مسند البزار، المنشور باسم البحر الزخار*. مکتبة العلوم والحکم.
۹: ترمذي، محمدبن عیسی. ( بی تا ). *مختصرالشمائل*. مؤسسة الرسالة،بیروت.
۱۰ : ترمذي، محمدبن عیسی. (۱۳۹۵هـ ق). *سنن ترمذي*. مکتبة مصطفی البابی الحلبی.
۱۱: زبیدي، محمدمرتضی. (۱۳۸۵هـ ق). *تاج العروس من جواهرالقاموس*. دارالهدایة، داراحیاء التراث.
۱۲: سالم، عطیة بن محمد. (بی تا). *تفسیرسورة الحجرات*. مصدرالکتابة،دروس صوتیة قام بتفریغها الشبکة الاسلامیة.
۱۳: سبتي، قاضی عیاض. (۱۴۳۹هـ ق). *بغیة الرائد لماتضمنه حدیث ام الزرع من الفوائد*. دارالذخائر.
۱۴: سجستاني، ابوادؤد. (۱۴۳۰هـ ق). *سنن ابوداؤد*. دارالرسالة العالیة.
۱۵: سیوطي، جلالدین.(۱۴۲٦هـ ق). *جمع الجوامع المعروف بـ «الجامع الکبیر»*. الأزهر الشریف.
۱٦: صدیقي، محمداشرف. (۱۴۱۵هـ ق). *عون المعبود شرح سنن ابی داؤد*. دارالکتب العلمیة.
۱۷:صنعاني، أبو بکر عبد الرزاق بن همام.( ۱۴۳۷هـ ق) *مصنف عبدالرزاق*. دار التأصیل.
۱۸: طبراني، أبو القاسم سلیمان بن أحمد. (۱۴۱۵هـ ق). *المعجم الاوسط للطبراني*. دار الحرمین.
۱۹: طبري، محمد بن جریر. (بدون تاریخ نشر). *تفسیرطبري جامع البیان*. دارالتربیة والتراث.
۲۰: طحاوي، ابوجعفر احمدبن محمد. (۱۴۱۴هـ ق). معاني الاثار. ناشر: عالم الکتب، لبنان،بیروت.

۲۱: عتيبي، فهد بن مقعد النفيعي.. (۱۴۲۴هـ ق).کتاب *مرويات المزاح والدعابة عن النبي - صلى الله عليه وسلم – والصحابة*. دار بلنسية.
۲۲: عراقي، عبدالرحيم. (۱۴۲۶هـ ق). *المغني عن حمل الاسفارفی الاسفارفی تخريج احاديث الاحياء من الاخبار*. ناشر: دار ابن حزم.
۲۳: عيني، بدرالدين أبو محمد محمود بن أحمد. ( بی تا). *عمدة القاري*. دار احياء التراث العربي ودارالفكر.
۲۴: فيرقي، ابومحمدحسن بن علي. ( ۱۴۳۹هـ ق). *فتح القريب المجيب على الترغيب والترهيب*. مكتبة دارالسلام.
۲۵: قشيري، أبو الحسين،مسلم بن حجاج. (۱۳۷۴هـ ق). *صحيح مسلم*. مطبعة عيسى البابي الحلبي وشركاه.
۲۶: كرماني، محمد بن يوسف بن علي بن سعيد، شمس الدين. (۱۳۵۶هـ ق). *الكواكب الدراري فی شرح البخاري*. دار احياء التراث العربي.
۲۷: مقدسي، مرعی بن يوسف. (۱۴۱۸هـ ق). *غذاء الارواح بالمحادثة والمزاح*. دارابن حزم.
۲۸: مجمع اللغة العربيةبالقاهرة. (۱۳۹۲هـ ق/۱۹۷۲م).*معجم الوسيط* .طبعة ثانيه. مجمع اللغة العربية.
۲۹ : مرْوزي ، أبو عبد الرحمن عبد الله بن المبارك بن واضح الحنظلي، التركي.( ۱۴۰۷هـ ق). *مسند عبدالله بن مبارك*. مكتبة المعارف.
۳۰: نسائي، أبو عبد الرحمن أحمد بن شعيب. (۱۴۲۱هـ ق). *سنن الكبرى*. مؤسسة الرسالة.

Islamic Emirate of Afghanistan

Ministry of Higher Education

Helmand University

# Leed Social Science Academic Journal

Volume:3 Issue: 1 Year:1405